بسم الله الرحمن الرحيم

سر یال نمبر: 411

يووالی، ايمان، انضباط

دملت غږ

# تي تي پي، افغان طالبان او احسان الله احسان د پاکستان ضد بيانيه په ډاګه شوه

تیره ورځ په هندي ورځپاڼه سنډې ګارډین کې د تي تي پي د پخواني وياند احسان الله احسان یوه مقاله خپره شوې وه چې پکې هغه یو ځل بیا په پاکستان د داعش د ملاتړ بې اساسه تورونو د لګولو ناکامه هڅه کړې۔

سنډې ګارډین هغه تبليغاتي ورځپاڼه ده چې د هند له پټې ادارې را سره تړاو لري، چې د مسلمانانو ضد اجنډا او د هند د خفيه ادارې د وسيلې په توګه شهرت لري او مخکې له دې هم په انډين کرانيکلز کې افشا شوې ده۔

په دې تناظر کښې حقايق څه په دې ډول دي:

- **احسان الله احسان چې يو قاتل او پټ ترهګر دی، بايد لومړی دا ښکاره کړي چې دا ډول تبليغاتي ليکنې له کومه ځايه خپرېږي او ولې خپل ځای پټوي۔**
- **د هند په يوې بدنامې ورځپاڼې کې د يوې مقالې خپرېدل د احسان الله اړيکې له هند او د دې هند د خفيه ادارې سره په ډاګه کوي۔**
- **د احسان الله احسان له خوا داعش ته د پاکستان پراکسي ويل ډېره مسخره ده، ځکه ټوله نړۍ پې د امريکا پراکسي ګڼي او د هغې د تاسيس او ايډيالوژۍ په اړه هيڅ ابهام نه شته۔**
- **احسان الله احسان له يوې خوا په تي تي پي نيوکې کوي او له بلې خوا د پاکستان پوځ ته سپکاوی کوي چې خپله خبره ټهيک ثابته کړي۔**
- **پر پاکستان د داعش په ملاتړ درواغجن تورونه په افغان موقت حکومت د تي تي پي پر ضد د اقدام د فشار د کمولو يوه ناکامه هڅه ده۔**

داعش په پاکستان کې په څو ترهګريزو بريدونو کې بې ګناه پاکستانيان په نښه کړي دي. په کوم کې چې د تي تي پي د داعش تړاو روښانه دی۔

د پاکستان خلک د وژونکي او نقاب پوش ترهګرو دروغ پروپاګنډا ردوي او د ټولو ترهګرو ډلو په وړاندې چې د سولې دښمنان دي د بې توپيره عملياتو لپاره خپلو امنيتي ادارو ستاينه کوي۔

مورخه: ۲۵ دسمبر ۲۰۲۳ء